د قرآن په دریم نمبر سورت کې یو اصل په دې ټکو کې بیان شوی. (وَإِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لاَ يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا) (ال عمران ۱۲۰) یعنې که چیرې تاسې صبر وکړئ او د پرهیزګاری چلند غوره کړئ، نو د نورو دسیسې به تاسې ته هیڅ زیان هم ونه رسوي.

د قرآن دا آیت د فطرت یو قانون بیانوي. له دې نه معلومیږي چې په دې دنیا کې توطئه کیدل (Conspiracy) اصل ستونزه نه ده، بلکې اصلي ستونزه د صبر او تقوا نشتوالی. په کومو خلکو کې چې د صبر ا و تقوا صفت موجود وي، د هغوي لپاره د نورو دسیسه او دښمني بې اغیزې پاتې کیږي. هغه به دوی ته هیڅ ډول زیان ونه شي رسولای.

صبر کوم وزګارتوب یا انفعالي صفت (Inaction) نه دی. د صبر مطلب هغه لوړ انساني صفت دی کوم ته چې د ځان قابو کول (Self control) ویل کیږي. یعنې د نورو پوسیله د پیدا شوو ستونزو څخه ذهن پورته کول او فکر کول او د خپل مثبت فکر لاندې د خپل ژوند پلان جوړول. د تقوا مطلب دا دی چې د انسان فکر د خپل ځان په طرف (Self – Oriented Thinking) نه وي، بلکې هغه خدای جل جلاله طرف ته (God Oriented Thinking) وي. په ټولنه کې د ده سلوک د خدای جل جلاله د لارښوونو مطابق وي نه د خپلو خواهشاتو او احساساتو مطابق. کوم خلک چې د صبر او تقوا دغه چلند اختیار کړي، نو د هغوی په خلاف به د نورو منفي کړنې او کارونه پخپله بې اغیزې شي. ځکه چې د دې دنیا قانون دا دی چې هره ناخوښه پیښه تل د دوه اړخیزه کړنو په نتیجه کې مخې ته راځي نه د یو طرفه عمل او کړنې په نتیجه کې.

دا د فطرت یو قانون دی چې هیڅ یو کس او ډله د معتدل ذهن لاندې د چا په خلاف کومه مخالفانه کړنه نه کوي. یو کس او یا یوه ډله د کوم بل کس یا ډلې په خلاف یو منفي عمل یوازې هغه وخت کوي کله چې هغه په غصه کړای شي. هر منفي غبرګون د یوې پارونکې کړنې په نتیجه کې د رد عمل په توګه مخې ته راځي. صبر او تقوا انسان له دې څخه منع کوي چې هغه د کوم بل کس یا ډلې په خلاف پارونکې کړنه ترسره کړي. همدا لامل دی چې صبر او تقوا د یوې ډلې او یا یو کس لپاره د حفاظت باوري ذریعه ده. داسې یو کس یا ډله به په هیڅ حال کې هم د بل پارونې کار نه کوي. له همدې امله په فطري توګه باندې به هغه د بل له خوا نه د راتلونکي ځوابي غبرګون څخه هم خوندي پاتې شي.

دا د فطرت قانون دی کوم چې د فطرت پیدا کوونکي پخپله مقرر کړی دی. په داسې حالت کې د دسیسې په خلاف چغې او شور کول یو بې ګټې کار دی. د کولو اصلي کار دا دی چې خپل

# د خپل ځان جوړول



ځان پخپله په داخلي توګه مضبوط کړل شي. په خپله ځان کي دننه زيات نه زيات د صبر او تقوا روح پيدا کړل شي. د دې نه وروسته د شکايتونو اسباب داسې ختميږي لکه چې هغه بالکل نه وي.

د خدای جل جلاله د تخليقي پلان (Creation plan of God) مطابق په ژوند کې هميشه دوه مختلف ډوله شيان موجود وي ستونزې (Problems) او فرصتونه (Opportunities) ـ څرنګه چې په ژوند کې هميشه مسايل (ستونزې) موجودې وي. دغسې په ژوند کې هميشه فرصتونه هم موجود وي. په داسی حالت کې د هوښيارتيا طريقه د اسلام مطابق دا ده چې ستونزې له پامه وغورځول شي او فرصتونه استعمال شي. (Ignore the problems avail the Opportunities) ـ ستونزو سره حساس کيدل، يوازې هغه وخت ضايع کول دي کوم چې په دې دنيا کې مونږ ته د ژوند د مثبت تعميرولو (ودانولو) لپاره راکړل شوی دی. همدا هوښيارتيا ده او همدا د اسلام طريقه هم ده.

مولانا وحيدالدين خان

**Center for Peace and Spirituality**
1, Nizamuddin West Market, New Delhi-110 013
Tel. 011-41431165, Mob. 09999944119
info@cpsglobal.org
www.cpsglobal.org, www.goodwordbooks.com